ژباړه : رحمت آریا
اخځ : ویکیپیډیا

آگست ۲۹ ، ۲۰۰۹

# کلپتوکراسي [1] او نـَرکوکلپتو کراسي [2]

کلپتوکراسي څه ده ؟ آیا په افغانستان کې ولسواکه ، ډیموکرات دولت لرو که کلپتو کرات دولت او نرکو کلپتو کرات واکمنان؟ دغه پوښتنه ځکه را وړاندې کوم چې دغه ګروپېنه د افغانستان له اوسنۍ واکمنۍ سره نیږدې ډده لګوي.

دغو پوښتنو ته د ځواب موندنې لپاره لوستونکي لاندنۍ ژباړې ته رابولم. له سیاسي شننونکو او کره کتونکو څخه هیله من یم چې دغه ګروپېنه دې په خپلو لیکنو کې و کارَوي ځکه د افغانستان له اوسني روان حالت سره تر ډیرې کچې تړاو مومي.

" کلپتو کراسي له یوناني ژبې څخه اخیستل شوې چې [ کلپتو] د [ غله ] او [کرات ] د قانون مانا ښندي ، دغه ګروَپینه " اصطلاح" دهغه دولت پر وړاندې کارَول کیږي چې له ولسي شتمنۍ څخه په ناوړه ګټه اخیستنې د ځان ، دولتي چارواکو او واکمنۍ پاړکي " طبقې " د شتمنولو لپاره [ چې په تولیز ډول د کلپتوکراتانو په نامه یادیږي ] ګټه اخلي ، ځینې وختونه دومره رَد سترګې کیږي چې ان د ظاهري سپېڅلتیا تظاهُر هم ورڅخه هیر شي.

**د کلپتو کراسی بېلګې**
ډیرې کلپتوکراسۍ د دیکتاتورو رژیمونو په بڼه راڅرګندیږي ، ځینې یې د اوتوکراتیکو [ استبدادي ] او خپلپالو [ نیپوتیست] رژیمونو په بڼه ، ځینې یې د ولسواکۍ او ډیموکراسۍ له لارې اوښتې رژیمونه دي او د اولیګارشۍ[3] ډنډ ته ښوییدلي دي. کلپوتوکراتیک دولت د یوه هیواد شتمني تر ګواښ لاندې نیسي کلپتوکرات دولت له ولسي شتمنۍ څخه داسې ګټه اخلي لکه چې د واکمنو کړیو خپله یا کورنۍ شتمني وي.

**د کلپتوکراسی اغیز**
پریوه ولس د یوه کلپتو کرات دولت یا حکومت اغیزې د هغه هیواد د اقتصادي لګښت ، سیاسي چارو او مدني حقونو برعکس دي. په یوه دولت کې کلپتوکراسي ، د بهرنیو پانګه اچَونو تغر ور تولوي ، کورنۍ اقتصادي مارکیټ او لیږد رالیږد له مرګڅپانې ګواښ سره مخامخوي. له دې چې کلپتوکرات دولت د خپل ولس د ټکس له پیسو ، شتمنیو ، بانکي وندو او ګټو څخه ناوړه ګټه پورته کوي له دې امله د کلپتو کرات دولت سیاسي جوړښت هم د ولسي پرګنو د هر غړي پر ژوندانه باندې په برابره کچه اغیزه شیندي. کلپتوکرات دولت له هغو بودیجو څخه غلا کوي چې ولسي ښیرازۍ او هوساینې ته ځانګړې شوي وي لکه د ودانیو جوړولو بودیجه ، د روغتونو ، سړکونو ، پارکونو او نورو بودیجه ، او په دې توګه د هیواد پر ولس د اقتصادي اغیزو پایلې چې د کلپتوکرات دولت تر زبیښاک لاندې زبیښل کیږي تل برعکس وي . په هیواد کې له کلپتوکراتو زبر واکو څخه را کتېدلې شبهه الګیارشي د ډیموکراسۍ [ او یا د هغه تر لاس لاندې ، د دولت د هر ډول سیاسیي جوړښت ] جرړې درې وړې کوي.

## د کلپتو کراسیو بیلګې :

له تأریخي اړخه :

[1] **Kleptocracy**, alternatively *cleptocracy* or *kleptarchy*
[2] **Narcokleptocracy**

[3] **Oligarchy**
[ هغه حکومت چې سیاسي او اقتصادي واک یې د شتمنو زبیښاکګرو پاړکو په لاس کې وي ، هغه حکومت چې د لږکیو وي]


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

د یوازینۍ شته سرچینې پر بنسټ تر ټولو لرغونی کلپتوکرات دولت د روسیې کیف [4] دولت وو ؛ د وارانګیانو[5] او سلاویکیانو[6] زبرواکو دغسې یو دولت رامنځته کړ او تر ۱۲۴۰ ز پورې [ تر هغه مهاله چې تزار کیف ونیو] د ټولو بریدونو پر وړاندې یې مقاومت وکړ.

## اوسني کلپتوکرات دولتونه :

د ۲۰۰۴ زکال په لومړیو کې د [ ترانسپیریسي انترنیشنل] [7] په نامه یوې جرمنۍ غیردولتي ادارې د یو شمیرهیوادونو د واکمنو یو نوملیک خپور کړ ؛ ددغې ادارې په باور لاندیني واکمن د هغه مهال تر ټولو خپلسري - ځان چورلیځه [ خود مَدار] مشران پېژندل شوي دي :

په لاندنیو کسان تور لګېدلی چې د خپل هیواد په میلیونونو ډالره یې غلا کړي دي :

۱- د اندونیزیا پخوانی ولسمشر سوهارتو[8] - له [ ۱۵ – ۳۵ ] بیلیونو امریکایي ډالرو پورې
۲ – د فیلیپین پخوانی ولسمشرفرناند مارکوس[9] له [ ۵ تر ۱۰ ] بیلیونو امریکایي ډالرو پورې
۳ – د زایر [ اوسنۍ کانګو] پخوانی ولسمشرموبوتو سیسو سیکو[10] [ ۵ بیلیونه ] امریکایي ډالره
۴ – د نایجیریا پخوانی ولسمشر ثاني اباچا[11] له [ ۲ – ۵ ] بیلیونو امریکایي ډالرو پورې
۵ - د یوګندا اوسنی ولسمشر یووري موسیویني[12] له [ ۱ تر ۱،۷] بیلیونو ډالرو پورې
۶ – د یوګوسلاویا پخوانی ولسمشر سلوبودان میلاسوویچ[13] [۱] بیلیونه ډالره
۷ - د هایتي پخوانی ولسمشر جین کلاوډ ډي والیر[14] له [ ۳۰۰ تر ۸۰۰] میلیونو ډالرو پورې
۸ - د پیرو پخوانی ولسمشر البرتو فوجي موري[15] [ ۶۰۰] میلیونه ډالره
۹ – د اوکرائین پخوانی سروزیر پاولو لزارینکو[16] له [ ۱۱۴ – ۲۰۰] میلیونو ډالرو پورې
۱۰ - د نیکاراګوا پخوانی ولسمشر آرنولډو آلیمان[17] [ ۱۰۰ میلیونه ] ډالره

---

[4] Kievan Rus

[5] **Varangians** or **Varyags/** Варяги

د نن ورځې روسیه ، بیلاروسیه او اکرائین

[6] **Slavic**

هند و اروپایي وګړي چې له شپږمې زیږدیزې پېړۍ را وروسته په ختیځې او منځنۍ اروپا کې میشت دي

[7] Transparency International

[8] Suharto

له ۱۹۶۷ ز تر ۱۹۹۸ ز پورې د ۳۱ کالو لپاره د اندونیزیا ولسمشر وو

[9] Ferdinand Marcos

له ۱۹۶۵ز نیولې تر ۱۹۸۶ ز پورې د ۲۱ کالو لپاره د فیلیپین ولسمشر وو

[10] Mobutu Sese Seko

د ۳۱،۵ کالو لپاره د کانګو ولسمشر وو

[11] Sani Abacha

له ۱۹۹۳ تر ۱۹۹۸ ز کال پورې د نایجیریا ولسمشر

[12] Yoweri Musevei

د ۱۹۸۶ز کال د جنورۍ له ۲۹ نېټې وروسته تر اوسه د یوګندا ولسمشر

[13] Slobodan Milošević

له ۱۹۸۶ز تر ۱۹۹۷ ز پورې د سربیا د سوسیالیستي جمهوریت او د سربیا د فدرالي دولت ولسمشر او له ۱۹۹۷ تر ۲۰۰۰ز کال پورې د یوګوسلاویا د فدرالي جمهوریت ولسمشر وو. نوموړی د جنګي جنایتکار په توګه په نړیوالي محکمې کې محکوم وپېژندل شو.

[14] Jean-Claude Duvalier

په ۱۹۹۷ ز کال کې د خپل ولسمشر پلار له مړیني وروسته د هایتي ولسمشر شو او په ۱۹۸۶ز کال کې د یوه ولسي پاڅون په لړ کې را و پرځول شو.

[15] Alberto Ken'ya Fujimori

د ۱۹۹۰ز کال د جولای له ۲۸ د ۲۰۰۰ زکال د نوامبر تر ۱۷ پورې د پیرو ولسمشر

[16] Pavlo Ivanovych Lazarenko

د اوکرائین پخوانی سیاستوال او سروزیر د ۲۰۰۶ ز کال د اګست په مېاشت کې په امریکا کې د غیر قانوني او په شوکو د لوټل شویو پیسو د لیږد په تور په بند محکوم شو. ددغو پیسو شمیره ۲۰۰ میلیونه ډالره وه چې نوموړي له ۱۹۹۶ تر ۱۹۹۷ ز پورې د خپلې سروزیرۍ د پیر پر مهال په شوکو له خپل ولسه شکولې وې.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.

۱۱ – د فیلیپین پخوانی ولسمشر جوزف استرادآ [18] له [ ۷۸ تر ۸۰ ] میلیونو ډالرو پورې

# نرکو کلپتو کراسي[19]

نرکو کلپتوکراتیکه ټولنه هغه ټولنه وي واکمني یې د [ غلو ] په لاس کې وي او اقتصاد یې د نیشه یي توکو د تولید پر چورلیځ را څرخي. دغه ګروَېښنه د لومړي ځل لپاره د امریکا د سنا د چارو د بهرنیو اړیکو کمیټې ته د ماساچوست د ایالات سناتور جان کیري[20] د خپل یوه ګزارش په لړ کې یاده کړې وه . دغه ګروېښنه په ځانګړې ډول د مانوئیل نوریګا[21] ترمشرۍ لاندې د پانامه د رژیم په اړوند ویل شوې وه . دغه ګروَېښنه د کلیپتوکراسۍ له مانا څخه اخیستل شوې چې په خپله د غلو د واکمنۍ مانا ښندي. دغه ګروویښنه په ځیر هغه مانا رانغاړي چې یو غل دولت د خپلو ګټو د ترلاسه کولو لپاره واکمني چلوي.

په ۲۰۰۳ زکال کې نیویارک ټایمز تورکمن ولسمشر د کلپتو کرات په نامه یاد کړ. و ګورئ [ لمنلیک] [22]

ایشیا ټایمز په تاجکستان کې د ماشومانو د لوړې کچې مړینه له کلپتوکراسۍ سره تړلې وبلله ، وګورئ [ لمنلیک[23] ]

په ۲۰۰۸ زکال کې اسوشیئـتد پرس د امریکا د پخواني سفیر، د سمندري ځواکونو کورناستې جنرال جیمز جونز [24] له خولې افغانستان د واکمنې کلپتوکراسۍ له امله یو ناکامه دولت په ګوته کړ. و ګورئ [ لمنلیک[25] ]

په ۲۰۰۵ زکال کې د امریکا د ستراتیژیکو او نړیوالو پلټنو مرکز [26] په خپل یوه ژور ۳۳ پاڼیز ګزارش کې خبر ورکړ چې له افغان دولته به یا یو کلپتوکرات یا نرکو کلپتو کرات دولت جوړ شي. دغه ګزارش د همدغه کال د جولای په مېاشت کې خپور شوی چې افغانستان یې له اقتصادي او امنیتي اړخونو څیړلې چې په هغه کې یې د نړیوالو مرستو ، ښکیلو هیوادونو او د یاغیانو د جګړې اغیزې سپړلې دي. د لا زیاتو مالوتو لپاره و ګورئ [ لمنلیک[27] ]

---

[17] José Arnoldo Alemán Lacayo

له ۱۹۹۷ تر ۲۰۰۲ ز کال پورې د نیکاراګوا ولسمشر

[18] Joseph Ejercito Estrada

د فلیپین دیارلسم ولسمشر له ۱۹۹۸ تر ۲۰۰۱ پورې د ایډاسا په انقلاب کې ولسمشر شو

**[19]** Narcokleptocracy

[20] **John Forbes Kerry**

[21] Manuel Antonio Noriega

له ۱۹۸۳ تر ۱۹۸۹ز پورې د پانامې پوځي دیکتاتور وو، په ۱۹۸۹ز کال کې امریکا په پانامې برید وکړ او نوموړی یې له واکه لیرې کړ نوموړی یې امریکا ته د بندي په توګه راوړ او تر اوسه ۲۰۰۹ ز کال پورې په امریکا کې بندي دی

[22] http://www.nytimes.com/2003/01/05/magazine/05TURKMENISTAN.html?pagewanted=all

[23] http://www.atimes.com/atimes/Central_Asia/JC26Ag01.html

[24] General James Jones

[25] http://www.afghanistanwatch.org/investment/

[26] Center for Strategic and International Studies

[27] http://csis.org/files/media/csis/events/inthebalance.pdf



افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املائی و انشائی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد ازغور کامل بما ارسال بدارید.